**مطبوعاتي اعلاميه**

**اې هغو کسانو چې د بدلون په لټه کې یئ، د اسلام پر اساس بدلون راولئ!**

(ژباړه)



د سوډان رژیم د غذایي او سون موادو په لاسته راوړلو او بانکونو ته د پیسو په سپارلو کې په لاس لرلو سره له سختو ناورینونو سره مخ شو. له دغو ناکامو اقتصادي سیاستونو څخه وروسته د دغه هېواد اوسېدونکي نهیلي شول او د دې لپاره چې ټول خلک په دغو ستونزو پوه شي، نو د پلازمېنې په مرکز خرطوم او د سوډان په نورو ښارونو کې یې د لاریونونو یوه لړۍ پیل کړه. دا لړۍ هغه مهال رامنځته کېږي چې رژیم هڅه کوي څو د پیسو د نړوال صندوق (IMF) د دستورالعمل په پلي کولو سره د خلکو عایدات محدود او ژوند یې په دوزخ ورته بدل کړي.

نو موږ حزب التحریر-ولایه سوډان د دغه ناوړه حقیقت او د خلکو د غبرګون پر وړاندې خپل پیغام داسې بیانوو:

لومړی- د سوډان خلکو ته وایو: هغه بدلون چې موږ یې په لټه یې یو، باید یو اساسي بدلون وي؛ نه د رژیم او ناکامو سیاستونو لپاره د څېرو بدلون، چې له شپږو څخه ډېرو لسیزو راهیسې یې د خلکو حالت د خرابۍ لوري ته روان کړی. بدلون مو باید د اسلامي عقیدې پر اساس وي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم را ته ښودلی او د دې تر څنګ لاریونونه او غوښتنې مو باید له فتنې پرته په سوله ییز ډول وي.

دویم- هغو ځوانانو ته چې د رژیم د بې عدالتۍ، فساد او ناکام سیاست په لیدلو سره غصه کېږي، وایو: عامه ملکیتونو ته زیان وانه ړوئ، ځکه دا یوازې د واکمن توطیه جوړوونکي رژیم او دغو خلکو ملکیت نه دی؛ بلکې د ټول امت ملکیت دی. همدارنګه شخصي ملکیت ته چې ستاسو په کورنیو او نورو وروڼو پورې تړاو لري، هم زیان ونه رسوئ؛ ځکه نورو ته زیان رسول اسلام حرام کړي دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَار»**

***ژباړه:*** *(مسلمان) چاته زيان نه رسوي او نه ده ته څوک زيان رسوي.*

لاريونونه مو له فتنو پرته په سوله ييز ډول پيل کړئ او په روانو استعماري سياستونو کې يوازې د څېرو د بدلون لپاره کار مه کوئ. لاسونه مو د امت هغو مخلصو کسانو ته ورکړئ، چې يوازې د اسلامي نظام يعنې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه راشده خلافت د تاسيس لپاره کار کوي.

په پای کې، درېيم او وروستی پيغام مو په فوځ او امنيتي کړيو کې د قدرت او نفوذ خاوندانو ته متوجه دی: د اساسي بدلون لپاره د امت ملاتړ وکړئ او د هغه ناروا رژيم چې د الله سبحانه وتعالی د قوانينو پر اساس نه اداره کېږي او په عدل او انصاف د امت د چارو ساتنه نه کوي، ملاتړ مه کوئ او په خپله فکري بلا کې يې له ستونزو سره مخ کړئ. تر ټولو لوی خطر يې دا دی، چې دا د استعمارګر کافر غرب په لاس کې يوه وسله ده، چې په واسطه يې خپلې توطيې دغه هېواد او اوسېدونکو ته يې لېږدوي. په دې سره د تروريزم د رامنځته کوونکي او د شيطان د ساتونکي (امريکا) په مشرۍ د «تروريزم» پر وړاندې جګړې تر نامه لاندې د اسلام پر وړاندې جګړه کې ګډون کوي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تګلارې پر اساس د دويم راشده خلافت د تاسيس لپاره حزب التحرير ته نصرت ورکړئ، چې د دنيا او آخرت نېکمرغي مو په برخه شي. په دې سره به ستاسو نومونه د تاريخ په روښانه پاڼو کې وليکل شي او تاسو به د هغو انصارو په څېر شئ، چې په مدينه کې يې د لومړي اسلامی دولت د تاسيس لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملاتړ وکړ او په دغه آيت شريف سره د الله سبحانه وتعالی د رضايت وړ وګرځېدل:

**﴿وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾** [أنفال: ۷۴]

***ژباړه:*** *دوی چې پناه يې ورکړه او مرسته يې ورسره وکړه، رښتيني مومنان دي. د هغوی لپاره د ګناهونو بښنه (الهي رحمت) او غوره روزي ده.*

**ابراهيم عثمان (ابو خليل)**

**د حزب التحرير-ولايه سوډان رسمي وياند**

**د صدور ګڼه: HTS/ ۱۵/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع الثاني ۱۴مه**

**۲۰۱۸م، د ډيسمبر ۲۱مه**